# د اسلامي شريعت له نظره د ګوتمې کارول( فقهي مقارنه)

**پوهنيار ابراهيم نوري [۱]، پوهنيار عبدالعزيز عابد [۲]**
[۱] اسلامي ثقافت ډيپارټمنټ، ښوونې او روزنې پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه.
[۲] فقه او قانون ډيپارټمنټ، شرعياتو پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه.
برېښناليک: Ibrahimnoori571@gmail.com

**لنډيز**

دغه موضوع د ګوتمې په پېژندنه، ډولونو او احکامو باندې څرخېږي، فقهي مقارنه پکې شوې ده، د موضوع موخه د ګوتمې پوره پېژندنه، په کارولو کې يې د فقهاؤ نظريات، د يوې نه د ډېرو ګوتمو د کارولو حکم، د سرو زرو پرته د نورو ګوتمو استعمال او د کوژدنې د ګوتمې شرعي حکم څرګند شوې دی. د موضوع تګلاره استقرايي ده، د څېړنې پايلو ښودلې چې: د سپينو زرو ګوتمې کارول روا دي، د اوسپنې ګوتمې کارول د نارينه او ښځينه لپاره مکروه دي، د ښځو لپاره د ملغلرې ګوتمې کارول د نارينو په څېر روا دي، د اهل علمو د صحيح قول پر بنسټ د سپينو زرو ګوتمه په ښي او چپ لاس دواړو باندې په ګوته کېدای شي او په دې اړه احاديث هم وارد شوي دي، راجح خبره د ګوتمې په نقاشۍ کې دا ده چې هر ډول روا ليکل پرې جايز دي، د کوژدن د ګوتمې کارول حرام دي چې په دې کې د کافرو سره مشابهت راځي او فاسده عقيده پرې مرتبيږي.

**کليدي کليمې**: اسلامي شريعت، حکم، فقهي مقارنه، ګوتمه.

**سريزه**

الحمدلله و الصلاة و السلام علی رسول الله و علی آله و اصحابه و من تبعهم باحسان الی يوم الدين.
هغه څه چې په دې وروستيو کې د ځينو مسلمانانو ترمنځ د اختلاف موضوع ګرځېدلې، يو له هغې نه د ګوتمې کارول دي. ډېر خلک يې د سنت طريقې پرځای کولو لپاره نه کاروي، بلکې دوی يې د يوې فاسدې عقيدې او د بل د تقليد له امله کاروي. هغه څوک چې استعمالول يې سنت ګڼي نو دوی هم د رسول صلی الله عليه وسلم له طريقې مخالفت کوي کوم چې د دې په اړه سنتو کې راغلي ده؛ نو د دې موضوع اړوند شرعي احکام په ډاګه کولو په موخه مو دغه موضوع باندې د تحقيق هوډ وکړ.

د ګوتمې جائز کارول يو له هغو موضوعاتو څخه ده چې ډېر مسلمانان يې د حکم په اړه پوره پوهاوی نه لري او پدې اړه په پښتو ژبه کې د أهل علمو لخوا سم پوهاوی نه دی ورکړل شوی؛ نو د ګوتمې د کارولو او ډولونو د څېړلو ترڅنګ مو هر اړخيزه څېړنه د اسلامي فقې په رڼا کې په پوره تفصيل او دقت سره کړې ده. په ياده موضوع کې په پښتو ژبه باندې د تحقيقي ليکنې نه شتون او اوسني وخت کې د دې موضوع ارزښت چې په څېړنيزه بڼه د عامه پوهاوي په موخه وڅېړل شي.

د ډېرې پلټنې څخه وروسته جوته شوه چې یاده موضوع باندې په ملي ژبو کې کومه څېړنه نه ده ترسره شوې؛ خو په عربي ژبه کې أحمد بن عبدالله بن محمد الفریح مقاله چې (حکم استعمال الخاتم للرجال) ده لیکل شوې ده. همدارنګه اړوند موضوع په فقهي کتابونو کې په کتاب اللباس والزینة او ځینو فتواګانو کې ورته د پوښتنې او ځواب په ډول اشاره شوې ده. لومړی لیکنه یواځې د نارینو لپاره د ګوتمې کارولو په اړه ده او په فتواګانو کې د ګوتمې په اړه بېلې بېلې پوښتنې شوې دي چې د ګوتمې اړوند موضوع یې په پوره وضاحت سره نه ده رانغښتې. د دې ترڅنګ ذکر شوې لیکنې ټولې په عربي ژبه باندې دي زموږ د ټولنې وګړي ترې استفاده نه شي کولای. زموږ د لیکنې لوی توپیر به دې سره دا وي چې دغه لیکنه به د ملي ژبې ترڅنګ د ګوتمې ټول ډولونه سره له حکمونو بیانوي؛ ترڅو لوستونکو ته یې مطالعه اسانه او د ټولنې ستونزه پرې حل شي.

**د څېړنې موخې:**

خلکو ته د ګوتمې د کارولو په اړه شرعي حکم بیانول.

د ګوتمو د ډولونو او حکم روښانه کول.

د ګوتمې د کارولو اثبات او نفي اړوند احادیث

د کوژدن ګوتمې د حکم څېړل

**د څېړنې پوښتنې**: دغه څېړنه به لاندې پوښتنو ته ځواب ورکولی شي:

د ګوتمې کارولو د اثبات او نفي اړوند کوم احادیث بیان شوي دي؟

د ګوتمې ډولونه او د کارولو احکام یې کوم دي؟

په ګوتمه باندې د نقاشۍ حکم څه دی؟

د کوژدن په مراسمو کې هلك او یا انجلۍ ته د ګوتمې په لاس کولو شرعي حکم څه دی؟

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه کتابتوني ده؛ نو د دې څېړنې په سرته رسولو کې مو د لاندې تګلارې او منهج څخه ګټه اخېستې ده. د څېړنې په اوږدو کې مو لومړی د څېړنې اړوند اصلي منابع پیدا کړې، وروسته د فقهي، معتمدو او باوري سرچېنو څخه د موضوع د غني کولو لپاره ګټه واخیستل شوه. څېړنه په پرتلیز ډول د څلور واړه مذهبونو د اقوالو او دلیلونه سره په مقاله کې ولیکل شو. دا چې څېړنه په مروري ډول ده؛ نو د مروري مقالې ټول قواعدو او اصولو ته پکې پاملرنه شوې ده.

**لومړی مبحث: د ګوتمې پېژندنه او د کارولو اړوند یې د اثبات او نفي احادیث**

لومړی مطلب: د خاتم(ګوتمې) پېژندنه.

د خاتم(ګوتمې) لغوي پېژندنه: د دې کلیمې اصل د (خ- ت- م) څخه اخیستل شوې دی او په لاندې معناګانو باندې دلالت کوي:

لومړی: (الطبع علی الشي) په یو شي باندې نقش کول.
دویم: (اللبس)د لاس کولو په معنی باندې ده.
دریم: (اخر الشي) د یو شي د پای په معنی هم راځي (تهذیب اللغة، للازهري، ۷/ ۱۳۷).
څلورم: (التغطیة علی الشي) د یو څه پټول او د هغه نه ځان ډاډمن کول (تهذیب اللغة، للازهري۷/ ۱۳۸).
د پورتني تحلیل څخه دا معلومېږي چې د ګوتمې ټولې معناوې په پورتنیو معناوو باندې څرخېږي، که څوک ګوتمه په لاس کوي نو په لاس کې یوه نښه شتون لري او د ګوتې اخر ته رسېږي او یوه برخه د ګوتې پټوي.

## د ګوتمې اصطلاحي پېژندنه

د ګوتمې اصطلاحي واحد تعریف شتون نه لري او علماؤ یې لاندې تعریفونه کړي دي:
دمیاطي رحمه الله یې داسې تعریف کړې دی: هغه څه چې په ګوته کې اچول کېږي که اراده یې ښکلا وي، مهر او یا نور څه، د ګوتمې څخه عبارت دي (اعانة الطالبین، للدمیاطي، ۲/ ۱۵٦). ګوتمه هغه ده چې غمی ولري او که غمی ونه لري د کړۍ (حلقې) په نامه یادېږي (فتح الباري، لابن حجر ۱۰/ ۳۲۲). نو څرګنده شوه چې د ګوتمې لغوي او اصطلاحي معناوې سره نږدې نږدې دي دومره ځانګړې توپیر پکې شتون نه لري.
دویم مطلب: د ګوتمې د کارولو اړوند د اثبات او نفي احادیث
۱- عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ وَنَقَشَ فِيهِ « مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ». فَاتَّخَذَ النَّاسُ خَوَاتِمَ الذَّهَبِ فَلَمَّا رَآهُمْ قَدِ اتَّخَذُوهَا رَمَى بِهِ وَقَالَ « لاَ أَلْبَسُهُ أَبَدًا ». ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقَشَ فِيهِ « مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ». ثُمَّ لَبِسَ الْخَاتَمَ بَعْدَهُ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ لَبِسَهُ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ عُمَرُ ثُمَّ لَبِسَهُ بَعْدَهُ عُثْمَانُ حَتَّى وَقَعَ فِي بِئْرِ أَرِيسَ(سنن ابي داود ۴/ ۱۴۲، ګڼه: ۴۲۲۰). ژباړه:
ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم د سرو زرو ګوتمه ځان ته وټاکله، غمی یې د لاس ورغوي طرف ته او په هغې کې د (محمد رسول الله) لیکل شوې وو؛ نو خلکو هم د سرو زرو ګوتمو کارول شروع کړل. کله چې رسول صلی الله علیه وسلم دوی ولیدل نو خپله ګوتمه یې وغورځوله او ویې ویل: زه به یې د تل لپاره په لاس نه کړم. بیا یې د هغې نه وروسته د سپینو زرو ګوتمه په لاس کړه او هغې باندې هم (محمد رسول الله) لیکل شوې وو، بیا د هغه د مرګ څخه وروسته ابوبکر، بیا عمر او بیا عثمان رضوان الله علیهم په لاس کړه تر دې چې د عثمان رضي الله عنه نه د أریس په څاه کې وغورځېده.
2- عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ فَكَانَ فِي يَدِهِ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ عُمَرَ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ عُثْمَانَ حَتَّى وَقَعَ مِنْهُ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ)( صحیح مسلم، ۱۰/ ۴٦۵، ګڼه: ۳۸۹۹).

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم د سپینو زرو ګوتمه په لاس کړه او هغه سره په لاس وه بیا ابوبکر، بیا عمر او بیا عثمان په لاس کړه تر دې چې د عثمان رضي الله عنه نه د اریس په څاه کې وغورځیده او (محمد رسول الله) پرې لیکل شوې وو.

د ذکر شوو حدیثونه نه دا معلومیږي چې رسول صلی الله علیه وسلم کومه ګوتمه په لاس کړې وه هغه د سپینو زرو وه او له هغې وروسته څلورو خلفاؤ هم په لاس کړې وه او دغه ګوتمه د سپینو زرو وه.

3- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ:كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَنَبَذَهُ فَقَالَ لاَ أَلْبَسُهُ أَبَدًا فَنَبَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ)( صحیح البخاري، ۱۸/ ۲۰۸ ،ګڼه: ۵۴۱۸).

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم د سرو زرو ګوتمه په لاس کوله بیا یې وغورځوله او وویې وویل: زه به یې هیڅکله په لاس نه کړم تر دې چې خلکو هم خپلې ګوتمې وغورځولې.

۴- عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْطَنَعَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ فِي بَطْنِ كَفِّهِ إِذَا لَبِسَهُ فَاصْطَنَعَ النَّاسُ خَوَاتِيمَ مِنْ ذَهَبٍ فَرَقِيَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ فَقَالَ إِنِّي كُنْتُ اصْطَنَعْتُهُ وَإِنِّي لاَ أَلْبَسُهُ فَنَبَذَهُ فَنَبَذَ النَّاسُ قَالَ جُوَيْرِيَةُ وَلاَ أَحْسِبُهُ إِلاَّ قَالَ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى)( صحیح البخاري ، ۱۸/ ۲۲۳،ګڼه: ۵۴۲۷). ژباړه: نافع د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت کړی دی چې رسول صلی الله علیه وسلم د سرو زور ګوتمه جوړه کړې وه او غمی یې د ورغوي طرف ته وو، کله چې یې وکاروله نو خلکو هم د سرور زرو ګوتمې جوړې کړې، رسول صلی الله علیه وسلم منبر ته پورته شو د الله تعالی ستاینه او تعریف یې وکړه او بیا یې وویل: ما دا ګوتمه جوړه کړې وه او زه یې نور نه په لاس کوم، خپله ګوتمه یې وغورځوله، خلکو هم خپلې ګوتمې وغورځولې. جویریة رضي الله عنها وویل: زما دا ګومان دی چې ګوتمه یې په ښي لاس وه.

د ذکر شویو احادیثو څخه معلومیږي چې رسول صلی الله علیه وسلم د سرو زرو د ګوتمې د کارولو په هکله منعه کړې ده لکه څنګه چې حدیثونو کې ذکر شول.

5- عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ .... انْظُرْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ)(صحیح البخاري ، ۱٦/ ۸۴.ګڼه: ۴۷۳۱).

ژباړه: سهل بن سعد رضي الله عنه نه په یو اوږد حدیث کې روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم یو صحابي ته چې نکاح یې کوله وویل: کور ته ولاړ شه اګر که د اوسپنې ګوتمه هم وه پیدا یې کړه.

د دغه حدیث څخه د اوسپنې ګوتمې په لاس کولو حکم څرګندیږي چې وروسته به یې تفصیل راشي.

٦- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : لَمَّا أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الرُّومِ قِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لَنْ يَقْرَءُوا كِتَابَكَ إِذَا لَمْ يَكُنْ مَخْتُومًا فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ قَالَ أَنَسٌ فَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ(صحیح البخاري، ۱۸/ ۱۲۸،ګڼه: ۲۰۹۱۵). ژباړه: انس بن مالك رضي الله عنه څخه

روایت دی کله چې رسول صلی الله علیه وسلم روم ته د خط لېږلو اراده وکړه نو ورته وویل شو چې دوی له مهر پرته ستا خط نه لولي؛ نو رسول الله تصمیم ونیو چې د سپینو زرو ګوتمه جوړه کړي او نقش یې محمد رسول الله وو، انس وایي: لکه زه چې د هغه په لاس کې د هغې ګوتمې سپین والی وینم.

۷- عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الْعَجَمِ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّ الْعَجَمَ لَا يَقْبَلُونَ إِلَّا كِتَابًا عَلَيْهِ خَاتَمٌ، «فَاصْطَنَعَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ»، قَالَ: «كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ»(صحیح مسلم، ۳/ ۱۶۵۷، ګڼه: ۵۷). ژباړه: انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله رسول صلی الله علیه وسلم عجمو ته د خطونو استولو اراده وکړه، نو ورته وویل شو: عجم خلك د مهر پرته لیکل نه قبلوي؛ نو رسول الله د سپینو زرو نه ګوتمه جوړه کړه، انس وایي: لکه زه چې د هغه په لاس کې د هغې ګوتمې سپین والی وینم. په پورتنیو حدیثونو کې د امام لپاره د ګوتمې استعمالولو جواز په هغه صورت کې دی چې ورته اړتیا وي.

۸- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ صَنَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا قَالَ إِنَّا اتَّخَذْنَا خَاتَمًا وَنَقَشْنَا فِيهِ نَقْشًا فَلَا يَنْقُشَنَّ عَلَيْهِ أَحَدٌ قَالَ فَإِنِّي لَأَرَى بَرِيقَهُ فِي خِنْصَرِهِ)( صحيح البخاري، ۱۸/ ۲۱۹، ګڼه: ۵۴۲۵). ژباړه: انس بن مالك رضي الله عنه فرمايلي دي: رسول صلی الله علیه وسلم ګوتمه جوړه کړه، راوي وایي: مونږ ګوتمې جوړې او نقاشی مو پرې وکړې؛ نور دې څوك په ګوتمه نقاشي نه کوي، راوي وایي: ما د هغه ګوتمې ځلا په کچه ګوته باندې لیدله.

۹- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَقَالَ إِنِّي اتَّخَذْتُ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشْتُ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَلَا يَنْقُشَنَّ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِهِ)( صحيح البخاري، ۱۰/ ۱۲۸، ګڼه: ۵۴۲۸). ژباړه: انس بن مالك رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم د سپینو زرو ګوتمې جوړولو تصمیم ونیو او د محمد رسول الله جمله یې پرې نقاشي کړه، او ویې ویل: ما له سپینو زرو ګوتمه جوړه کړه او نقاشي مې پرې د محمد رسول الله وکړه؛ نو هېڅوك دې د دې په نقاشی باندې نقاشي نه کوي. ذکر شوي دواړه حدیثونه په ګوتمه کې د نقاشی حکم کولو باندې دلالت کوي.

**دویم مبحث: د ګوتمې ډولونه او اړوند احکام**

په دې مبحث کې به د ګوتمې د ډولونو په اړه د فقهاوو نظرونه، دلیلونه او اړوند احکام په تفصیل سره و څېړل شي.

لومړی مطلب: د خاتم(ګوتمې) ډولونه او د کارولو احکام

لومړی ډول: د سرو زرو د ګوتمې د کارولو اړوند د فقهاوو اختلاف

فقهاوو په دې باندې اتفاق کړی دی چې د ښځينه وو لپاره د سرو زرو ګوتمو کارول جواز لري. (المحيط البرهاني لا بن مازه، ۵/۱۹۸)، لکه څنګه چې دوی هم په دې خبره اتفاق کړې دی چې د نارينه وو لپاره د سرو زرو کارول حرام دي. (حاشية الروض المربع، لابن قاسم، ۵/ ۲۲۳).

رسول صلى الله عليه وسلم نه دا ثابت دي چې د سرو زور ګوتمې له کارولو څخه يې منعه کړې ده، حديث کې راغلي دي(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ وَقَالَ يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ خَاتِمَكَ انْتَفِعْ بِهِ قَالَ لاَ وَاللَّهِ لاَ آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) (صحيح مسلم، ۱۰/ ۴۶۲، ګڼه: ۳۸۹۷). ژباړه: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول صلى الله عليه وسلم د يو سړي په لاس کې د سرو زرو ګوتمه وليده؛ نو د هغه کس څخه يې وويستله او ويې وغورځوله او ورته يې وويل: په تاسې کې يو کس د دې قصد کوي چې د اور بڅرکی په لاس کړي، نو کله چې رسول الله لاړو؛ نو هغه کس ته وويل شو: خپله ګوتمه دې واخله او فايده ترې واخله، هغه کس وويل: هيڅکله نه؛ قسم په الله هېڅ يې نه اخلم په داسې حال کې چې رسول الله غورځولې ده. اګر که د سرو زرو ګوتمې کارول په اصل کې حلال وو او په دې خبره د ابن عمر حديث دليل دی(عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ وَنَقَشَ فِيهِ « مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ).( سنن ابي داود ۴/ ۱۴۲، ګڼه: ۴۲۲۰). ژباړه: ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول صلى الله عليه وسلم د سرو زرو ګوتمه ځان ته انتخاب کړه او د هغې غمی يې د لاس ورغوي طرف ته وو او په هغې کې (محمد رسول الله) ليکل شوې وو.

ابن عبدالبر رحمه الله ويلي دي: دغه حديث په دې باندې دلالت کوي چې په شيانو کې اصل اباحت او روا والی دی تر دې چې شريعت يې په اړه د منعې څه نه وي ويلي، آيا ته نه ګورې چې رسول صلى الله عليه وسلم د سرو زرو ګوتمه د لومړي ځل لپاره کاروله او صحابه کرامو هم د دې پيروي وکړه تر دې چې رسول صلى الله عليه وسلم يې نارينه له کارولو څخه منعه کړل (التمهيد، لابن عبدالبر، ۱۷/ ۹۵).

دويم ډول: د سپينو زرو د ګوتمې د کارولو اړوند د فقهاوو اختلاف د شرعي نصوصو او څلورو مذاهبو د ويناوو په رڼا کې د نارينه وو لپاره د سپينو زرو د ګوتمې په استعمالولو کې جواز دی، په دې کې هېڅ حرمت او مکروهيت شتون نه لري؛ مګر دغه روا والی د استعمالونکي د صفت، حالت او حاجت سره توپير کوي، دغه پوره تفصيل به په لاندې ډول ذکر کوو:

**لومړی قول:** د حنفي فقهاوو په آند د سپينو زرو د ګوتمې کارول جواز لري، اګر که ځينو يې کارول د حاجت پورې مقيد کړي دي، که حاجت ورته نه وي نو ښه خبره دا ده چې کارول يې پرېښودل شي.

د اکثریت حنفي فقهاوو په آند د داسې ګوتمې کارول چې د نارينه وو ګوتمو په شکل او بڼه جوړه شوې وي مقيد کړې ده، که چېرې يې بڼه د ښځو د ګوتمو په څېر وه نو کارول يې نارينو ته مکروه دي. همدارنګه د دغې ګوتمې کارول د نارينه وو لپاره که چېرې له ګاڼې او ښکلا لپاره نه وي جواز لري، که يو څوک قسم وکړي چې ګاڼه به نه کاروي او دغه کس د سپينو زرو ګوتمه وکاروله نو په دې حالت کې نه حانث کېږي، ځکه د نارينه وو لپاره د سپينو زرو په کارولو کې اصل د عرف او شريعت له پلوه ګاڼې د ښکلا لپاره نه وي بلکې د ګوتمې کارول د مهر او ټاپې لپاره شوې ده(الهداية، للمرغيناني، ۲/ ۳۳٦).

قاضي خان ويلي دي: د سپينو زرو ګوتمه استعمالول هغه چاته روا دی چې مهر او ټاپې ته اړتيا ولري او څوک چې مهر او ټاپې ته اړتيا ونه لري؛ نو بهتره ده چې په لاس يې نه کړي (الفتاوی الهندية، ۵/ ۳۳۵).

لومړی قول: پرته له استثناء څخه ټولو نارينه وو ته د سپينو زرو ګوتمې کارول روا دي.

دوېم قول: د نارينه وو لپاره د سپينو زرو د ګوتمې په اړه مالکي فقهاء درې قولونه لري.

درېم قول: له سلطان او حاکم پرته هېڅ يو نارينه ته د سپينو زرو د ګوتمې کارول روا نه دي.

**لومړی قول**: نارينه وو ته يې کارول په شرطونو روا دي: په کارولو کې به مقصد سنت وي، يوه به کاروي، د سپينو زرو څخه به وي، وزن به يې له دوو درهمو نه زيات نه وي. که چېرې يې يو څوک د تکبر او تعجب او يا له يوې نه ډېرې وي او يا ځينې برخه سپين زر او ځينې نوره برخه يې سره زر وي او يا له دوو درهمو څخه يې وزن زيات وي او کاروي يې نو بيا يې کارول حرام دي (الشرح الکبير، للدردير، ۱/ ٦۳).

قاضي عياض رحمه الله ويلي دي: علماؤ په دې اجماع کړې ده چې د سپينو زرو ګوتمو کارول نارينه وو ته روا دي، خطابي رحمه الله ويلي دي: ښځينه وو ته د سپينو زرو ګوتمو کارول مکروه دي؛ ځکه دا د نارينه وو له ښائست څخه دی، که چېرې ښځو سره زر پيدا نه کړل نو کولای شي چې سپين زر وکاروي خو په دې شرط چې په زغفران او يا نورو شيانو ورله رنګ زيړ کړي (اکمال المعلم بفوائد مسلم، لقاضي عياض، ٦/ ٦۰٦).

**دوېم قول**: شافعي فقهاوو په دې باندې اجماع کړې ده چې نارينه وو ته د سپينو زرو ګوتمې کارول روا دي.(المجموع، للنووي، ۴/ ۴۴۴)، بلکې د دوی ډېرې نصوص په دې باندې دلالت کوي چې کارول يې د نارينه وو لپاره سنت دي (اعانة الطالبين، للدمياطي ۲/ ۱۵٦).

نووي رحمه الله ويلي دي: ټولو مسلمانانو په دې اجماع کړې ده چې نارينه وو ته د سپينو زرو ګوتمې کارول جواز لري، د شام ځينو متقدمينو علماوو يې د سلطان او حاکم پرته بل چاته کارول مکروه کړي دي. دا يو شاذ او مردود قول دی (شرح مسلم، للنووي، ۱۴/ ٦۷).

**درېم قول:** حنبلي فقها ويلي دي چې د ګوتمې کارول مباح او روا دي. خو په ذکر شوې اباحت کې اختلاف لري:

أ- ځينې په دې آند دي چې كارول يې مباح او روا دي هېڅ فضيلت په كې نشته. دغه قول د دې مذهب صحيح قول دی.

ب- ځينې نور يې وايي چې په لاس كول يې مستحب دي.

ج- د سلطان او حاكم پرته يې بل چاته كارول مكروه دي.

د- څلورم قول يې دا دی چې د ښايست او زينت په نيت يې په لاس كول مكروه دي(كشاف القناع، للبهوتي، ٢/ ٢٣٦).

امام احمد رحمه الله د نارينه وو لپاره د سپينو زرو د ګوتمې د كارولو په اړه ويلي دي: هېڅ پروا نه كوي، دليل يې دا دی چې ابن عمر هم يوه ګوتمه درلوده (الفروع، لابن مفلح ۴/ ۱۴۹). حنابله فقهاوو په دې نص كړې دی چې د نارينه لپاره د سپينو زرو ګوتمې كارول روا دي. دا ځكه چې رسول صلی الله عليه وسلم خپله يوه د سپينو زرو ګوتمه درلوده، د هغه د مرګ څخه وروسته ابوبكر، بيا عمر او بيا عثمان په لاس كوله تر دې چې عثمان رضي الله عنه څخه د أريس په څاه كې وغورځېده(المغني، لابن قدامة، ١٠/ ٣۴٠).

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ويلي دي: د سپينو زرو ګوتمې كارول د امت په اتفاق سره روا دي؛ دا ځكه چې د رسول صلی الله عليه وسلم څخه يې كارول ثابت او صحابه كرامو هم پدغه عمل كې د هغه پيروي كوله (حاشية الروض المربع، لابن قاسم، ۵/ ۲۲۳).

**راجح قول:** د فقهاوو له ويناوو څخه دا واضحه شوه چې د نارينه لپاره د سپينو زرو ګوتمه په لاس كول روا دي؛ خو بهتره او افضله دا ده كه چېرې ورته اړتيا نه وه نو پريښودل يې ښه خبره ده، خو كه څوك يې د زينت او ښايست لپاره استعمالوي نو بيا يې كارول ښه كار نه دی، دا ځكه چې د نارينه زينت او ښكلا د ګوتمې په لاس كولو كې نه دی؛ بلكې د ګوتمې په لاس كولو كې يې زينت د ښځو لپاره دی. كه چېرې د ګوتمې په اړه شرعي راغلي نصوص وكتل شي څرګنده به شي چې رسول الله د ګوتمې په لاس كول د اړتيا او حاجت لپاره كړي وه؛ نو د دې په خاطر د حنفي فقهاوو قول چې ګوتمې كارول يې حاجت پورې مقيد كړی او دا قوي او بهتره قول دی. د دې په څېر د مالكي فقهاوو قول چې كارول يې د سلطان او حاكم پورې مقيد كړی وو او د حنبلي فقهاوو قول چې د زينت او ښايست په شرط يې كارول جواز نه لري.

څومره شرعي نصوص چې په دې اړه د رسول صلی الله عليه وسلم نه راغلي دي لنډېز يې داسې كېږي: رسول صلی الله عليه وسلم ګوتمه هغه وخت په لاس كړه كله چې يې پاچاهانو او هغه مشرانو ته چې اسلام ته دعوت وركاوه پيغامونه او خطونه لېږل، بلكې ځينې شرعي نصوص په دې هم دلالت كوي چې رسول صلی الله عليه وسلم ګوتمه هغه وخت كاروله په كوم وخت كې چې ورته اړتيا او حاجت پيدا شو، دغه حاجت د مهر او ټاپې په حالت كې څرګند شو چې همدا يې لومړی موخه وه، بيا چې كله رسول صلی الله عليه وسلم پخپله كاروله نو موخه يې د دې ساتل او بل چا لاس ته نه رسيدل وو، لكه

څنګه چې همدغه خبره امام قرطبي رحمه الله کړې ده.(المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، للقرطبي، ۵/ ۴۱۰).
رسول صلی الله علیه وسلم چې کومه ګوتمه وغورځوله هغه يې د ښايست په نيت پرته له نقاشۍ څخه په لاس کړې وه او نورو خلکو يې په دې کې پيروي وکړه تر څو د سنتو متابعت وکړای شي، رسول صلی الله عليه وسلم ته ښکاره شوه چې د دې په کارولو سره انسان کې تکبر او تعجب راځي نو خپله يې وغورځوله او نورو خلکو هم خپلې ګوتمې وغورځولې. کله چې د رسول صلی الله علیه وسلم ضرورت ورته د مهر په هدف پيدا شو نو بيا يې کارول پیل کړ (مرقاة المفاتيح، للقاري، ۱۳/ ۱۴۴). ځينې اهل علمو يې کارول د سلطان نه پرته ځکه مکروه ګڼلې ده چې دا د سلطان له ځانګړتياوو څخه ده، نو که نور خلک يې هم په لاس کړي ګوتمې به سره ګډې وډې شي، ځانګړنه به يې له منځه ولاړه شي فساد به مخې ته راشي (المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، للقرطبي، ۵/ ۴۱۰).

ابن عثمين رحمه الله ويلي دي: ګوتمه په لاس کول د مستحباتو کارونو څخه نه ده؛ بلکې داسې يو کار دی که اړتيا ورته پيدا شوه کارول يې جواز لري او که نه وه کارولو ته يې ضرورت نشته، د دې غښ دليل د رسول صلی الله علیه وسلم عمل دی چې هغه هم د ګوتمې کارول نه خوښه ول؛ خو کله چې ورته وويل شول چې د نورو هېوادونو پاچاهان او مشران ليک پرته له مهر او ټاپې نه مني نو بيا رسول صلی الله علیه وسلم ګوتمې کارول چې په غمي باندې يې د (محمد رسول الله) نقش هم وه ځان ته وټاکله، کله چې به ليکل ختم شول په پای کې به پرې مهر ووهل شو (شرح رياض الصالحين، للعثيمين، ۲/ ۴۵۵).

خطابي رحمه الله ويلي دي: عربو کې د ګوتمې کارول عادت نه وو، کله چې رسول صلی الله علیه وسلم پاچاهانو ته ليکونه استول نو د سرو زرو ګوتمه يې ځانته وټاکله، بيا يې ددې ګوتمې څخه رجوع وکړه؛ ځکه په هغې کې د ښکلا او فتنې ويره موجوده شوه، د ګوتمې غمی يې د ورغوي دننه طرف ته کړ د دې لپاره چې ښايست ښکاره نشي (فتح الباري، لابن حجر، ۱۰/ ۳۲۵).

په هر حال دې مسئله کې پوره پراختيا شتون لري او ډېر تشدد پکې له دې امله نه دی په کار چې سنت عمل دی پيروي دې وشي او يا يې په کارونکې باندې انکار وشي، خو که چېرې يې څوک په کومه عقيده باندې استعمالوي بيا حکم بدل دی چې وروسته به يې تفصيل راشي.

**دريم ډول**: د اوسپنې د ګوتمې د کارولو اړوند د فقهاوو اختلاف

په دې مسئله کې هم فقهاؤ په لاندې ډول اختلاف لري:

**لومړی قول**: د اوسپنې ګوتمې کارول حرام او ناروا عمل دی. دغه قول د حنفي، مالکي او يو روايت د حنبلي فقهاوو څخه هم روايت شوی دی (الهداية شرح البداية، للمرغيناني، ۴/ ۳۶۷).

ددې قول خاوندانو په دې حديث باندې استدلال کړی دی: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلاً جَاءَ إِلَى النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ شَبَهٍ فَقَالَ لَهُ « مَا لِى أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الأَصْنَامِ ».

فَطَرَحَهُ ثُمَّ جَاءَ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ حَدِيدٍ فَقَالَ « مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ ». فَطَرَحَهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مِنْ أَيِّ شَىْءٍ أَتَّخِذُهُ قَالَ « اتَّخِذْهُ مِنْ وَرِقٍ وَلاَ تُتِمَّهُ مِثْقَالاً(سنن ابي داود، ۴/ ۱۴۴.ګڼه: ۴۲۲۵). ژباړه: عبدالله بن بريدة رضي الله عنه د خپل پلار نه روايت کړی دی چې يو کس رسول صلی الله عليه وسلم ته راغی او د الماسو ګوتمه يې په لاس کړې وه، رسول صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ستا له اړخ نه ماته د بوتانو بوي راځي، هغه کس ګوتمه وغورځوله، بيا راغی او د اوسپنې ګوتمه يې په لاس کړې وه، بيا ورته رسول صلی الله عليه وسلم وويل: ستا له اړخ نه ماته د اور له څښتنانو د ګاڼې بوي راځي، هغه کس دغه ګوتمه هم وغورځوله او ويې ويل: ای د الله رسوله! له څه شي نه ګوتمه جوړه کړم؟ رسول صلی الله عليه وسلم ورته وويل: د سپينو زرو څخه يې جوړه کړه خو چې له يو مثقال څخه زياته نه وي.

د حديث نه د استدلال طرز: رسول صلی الله عليه وسلم په دې حديث کې د اوسپنې د ګوتمې استعمالول د اور د څښتنانو له عمل څخه ګڼلي دي او هغه کافر دي، او هر چا چې په ګوته کړه نو د هغوی سره يې ورته والی راځي او دا شرعاً ممنوع ده.

دويم قول: د اوسپنې ګوتمې استعمالول مکروه دي. دا قول د يو روايت مطابق د حنفي فقهاوو دی، د مالکي فقهاوو معتمد قول هم دغه دی، يو قول د شافعي فقهاوو او دويم روايت له حنبلي فقهاوو څخه نقل شوې دی (الجوهرة النيرة، للحداد، ٦/ ١٥٤). د دې قول دليل هم پورتنی حديث دی چې د لومړي قول څښتنانو يې په حرمت دليل نيولی وو؛ مګر دوی ويلي دي: د اوسپنې ګوتمې په لاس کول مکروه دي، د دوي په آند يې حکم مکروه دی نه حرمت، دوي وايي: په حديث کې په صراحت ډول د دې ډول ګوتمې نه منعه نه ده شوې، بلکې دومره يادونه يې شوې ده چې د اور څښتنانو له جامو څخه ده.

دريم قول: د اوسپنې ګوتمې کارول روا دي او هېڅ کراهت په کې شتون نه لري. دا قول د شافعي فقهاوو د مذهب صحيح او مختار قول دی (اعانة الطالبين،للدمياطي، ٢/ ١٥٦).

ددې قول دليل هغه متفق حديث دی چې په کې راغلي دي(عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ امْرَأَةً عَرَضَتْ نَفْسَهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ زَوِّجْنِيهَا فَقَالَ مَا عِنْدَكَ قَالَ مَا عِنْدِي شَيْءٌ قَالَ اذْهَبْ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ ....)( صحيح البخاري، ١٦/ ٧٧،ګڼه: ۴۷۲۷). ژباړه: سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی چې يوې ښځې رسول صلی الله عليه وسلم ته د نکاح لپاره ځان وړاندې کړ، يو کس ورته وويل: ای د الله رسوله! که چېرې ستا اړتيا ورته نه وي ماته يې په نکاح کړه، رسول صلی الله عليه وسلم ورته وويل: څه درسره دي؟ هغه وويل: ما سره خو هېڅ هم نشته، رسول صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ولاړ شه يوه د اوسپنې ګوتمه خو پيدا کړه. نوځرګنده شوه چې هغو کسانو چې کارول يې حرام او يا مکروه ګڼلي دي د عبدالله بن بريده په حديث يې استدلال کړې دی، او څوک

يې چې په جواز قايل دي نو د سهل بن سعد په حديث يې استدلال کړی دی. د دې ګوتمې د نهې په اړه د صحابه وو او سلفو صالحينو ځېنې ويناوې د روښانه کولو لپاره وړاندې کوو:

ابن عبدالبر په تمهيد کې ويلي دي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه د اوسپنې او سرو زرو ګوتمې په اړه روايت دی: دغه ډول ګوتمو کارول د اور د بخرکي په لاس کې نيول دي او يا يې ويلي دي: دغه ګوتمې د اور د ښتنانو له ګاڼې څخه دي. همدارنګه له دې څخه بل روايت دی: ابو موسی اشعري او زياد رضي الله عنهما يوه ورځ د دې مجلس ته حاضر شول د زياد په لاس باندې د سرو زرو ګوتمه وه، عمر رضي الله عنه ورته وويل: آيا ته د سرو زرو ګوتمه استعمالوې؟ ابو موسی ورته وويل: زما ګوتمه د اوسپنې څخه ده، عمر رضي الله عنه ورته وويل: دا له هغې نه ډېره خبيثه او بد بويه ده، بيا يې وويل: که څوک ګوتمه په لاس کوي نو د سپينو زرو دې په لاس کړي (التمهيد، لابن عبدالبر، ۱۷/ ۱۱۴).

ابن وهب د امام مالک رحمه الله نه روايت نقل کړې دی: ما چې څومره اوريدلي دي، د اوسپنې ګوتمې په لاس کول مکروه دي(الاستذکار، لابن عبدالبر ۲۶/ ۳۶۰). د اسلام په پيل کې د اوسپنې ګوتمې کارول روا وو او بيا رسول صلی الله عليه وسلم دغه ګوتمه هم وغورځوله(شرح صيح البخاري، لابن بطال، ۹/ ۱۳۲).

ابوبکر الاثرم رحمه الله وايي: ما احمد بن حنبل رحمه الله ته وويل: د اوسپنې ګوتمې په اړه څه نظر لرې؟ هغه وويل: په دې کې اختلاف دی، ابن مسعود په لاس کړې وه او ابن عمر رضي الله عنهما يې په اړه ويلي دي: هغه لاس هېڅ پاک نه دی په کوم کې چې د اوسپنې ګوتمه په لاس وي (الفروع، لابن ملفح، ۴/۱۶۵). د ذکر شويو دليلونو دا څرګنديږي چې د اوسپنې ګوتمې کارول په شديد کراهت سره مکروه دي تر دې چې حرمت ته رسيږي، و الله أعلم.

څلورم ډول: د ملغلرې د ګوتمې د کارولو اړوند د فقهاوو اختلاف: د شرعي نصوصو په پلټنه کې داسې کوم صريح شرعي نص په دې مسئله کې شتون نه لري، د اهل علمو له نظرياتو له پلټنې هم معلوميږي چې چا پرې د حرمت او نهي په اړه څه نه دي ويلي؛ بلکې ځينې اهل علم يې په جواز باندې په دې شرط قايل دي چې د ښځو او کفارو سره به په کې مشابهت نه وي اسراف او تکبر به هم په کې نه وي، جواز لري. دا مذهب د شافعي او حنبلي فقهاوو دی (الأم، للشافعي، ۱/ ۲۵۴).

ددې مسئلې د ښه وضاحت لپاره لاندې اختلاف ته اشاره کوو:

لومړی قول: د ملغلرې د ګوتمې کارول روا دي. دا قول د جمهورو اهل علمو دی، او نووي رحمه الله په کې د ټولو اتفاق رانقل کړې دی (المجموع،للنووي، ۴/ ۴۶۶).

دويم قول: د ملغلرې د ګوتمې کارول مکروه دي. دا قول د ځينې حنبلي فقهاوو څخه نقل شوې دی(الفروع، لابن مفلح، ۴/۱۶۳). که چيرې د دې ګوتمې په کارولو کې د ښځو او کافرانو سره مشابهت، اسراف او تکبر نه وي نو بيا د هغه نصوصو په رڼا کې چې مشابهت او اسراف يې منعه کړې حرام دي.

امام شافعي رحمه الله ويلي دي: زما په نظر د سرې لپاره د ملغلرې ګوتمې کارول د ادب پر بناء مکروه دي، دغه عمل د ښځو له اموراتو څخه دی، خو حرام نه دی. همدارنګه زما په نظر د ياقوت او زبرجد کارول هم د اسراف او تکبر له امله مکروه دي، کنه په اصل کې د ښځو کالي په نارينه وو حرام نه، بلکې مکروه دي (الام، للشافعي، ۱/ ۱۵۴). زما په نظر والله اعلم: د دې کارول روا دي، خو که چېرې يې کوم انسان د ادب او يا له دې وجې نه چې د ښځو عادت دی او ډېر يې استعمالوي مکروه وګڼي نو دا خپله هم دې کس ته راجع کېږي او هېڅ شرعي حکم کې نه دي داخل.

**دويم مطلب**: د يوې څخه د ډېرو ګوتمو د کارولو حکم

لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه چې د سپينو زرو د ګوتمې کارول په مطلق ډول سره جائز نه دي، نو په دې مسئله کې هم د فقهاوو اختلاف دی چې د يوې څخه د ډېرو ګوتمو کارول څه حکم لري؟

د فقهاوو قولونه په دې مسئله کې په لاندې ډول بيانوو:

لومړی قول: يو کس ته روا نه دي چې له يوې څخه ډېرې ګوتمې وکاروي. دا قول د مالکي، يو قول د شافعي او يو قول د حنبلي فقهاوو څخه نقل شوی دی(الشرح الکبير ،للدردير، ۱/ ٦٣).

دويم قول: يو کس کولای شي چې له يوې نه ډېرې ګوتمې په لاس کړي. دا قول د شافعي او حنبلي فقهاوو معتبر قول دی. شافعي فقهاوو په دې مشروط کړي دي چې اسراف به په کې نه وي.

په دې مسئله کې مو د حنفي فقهاوو داسې څرګند قول پيدا نه کړ، البته په مبسوط کې په دې اړه داسې راغلي دي: حاصل دا دی چې که يو کس په دې باندې مشهور وو چې دوه ګوتمې د ښکلا لپاره استعمالوي نو دا د دې ځانګړی کارول دي کنه منصوص د يوې ګوتمې کارول دي (بدائع الصنائع، للکاساني، ٦/ ۴۸). د دوي له خبرو نه دا څرګندېږي چې د ډېرو ګوتمو کارول جواز لري خو په دې شرط چې ګوتمې د مهر لپاره وي نه د ښايست او زينت لپاره.(البحر الرائق لابن، نجيم، ۹/ ۲۷۲).

راجح په دې مسئله کې داسې ده چې: يو کس بايد يوه ګوتمه وکاروي؛ دا ځکه چې سنتو کې د يوې ګوتمې کارولو په اړه روايتونه راغلې دي، خو که څوک ګوتمه د سنتو د پيروی په نيت په لاس کوي نو عدد په کې لازم دی (يعنې يوه ګوتمه دې وکاروي).

دريم مطلب: د کچې ګوتې نه پرته په نورو ګوتو د ګوتمې کارولو حکم

د رسول صلی الله عليه وسلم په سنتو او د سلفو څخه د صحابو او تابعينو په اقوالو او افعالو کې د ګوتمې په کچه ګوته کارولو په اړه ثابت اقوال نقل شوي دي؛ خو په دې مسئله کې چې د کچې ګوتې نه پرته په نورو ګوتو د ګوتمې کارول څه حکم لري؟ دا هم يوه اختلافي مسئله ده او دغه اختلاف په لاندې ډول بيانوو:

لومړی قول: حنفي فقهاء په دې آند دي چې په نورو ګوتو یې کارول سخت مکروه دي او په دې کې د سنتو صریح مخالفت هم دی (عمدة القاري، للعیني، ۲۲/ ۳۷۸).

دویم قول: د ځینو مالکي فقهاوو په نصوصو کې دا ذکر شوي دي چې ګوتمه باید هرومرو په کچه ګوته وکارول شي، د دې نه دا معلومېږي چې په دې موضوع کې د مالکیانو ترمنځ اختلاف شتون لري؛ مګر قاضي عیاض د دې اختلاف نفي کړې ده. امام مالك رحمه الله ویلي دي: علماوو د ګوتمې په اړه راغلي اثارو کې د ګوتمې په کچه ګوته کارولو کې د نارینه وو لپاره هېڅ اختلاف شتون نه لري (مواهب الجلیل، للحطاب، ۱/ ۱۲۷).

دریم قول: د کچې ګوتې نه پرته په نورو ګوتو باندې د ګوتمې د کارولو په اړه د شافعي فقهاؤ دوه نظرونه دي (المنهاج القویم، للهیتمي، ص ۳۹۸):

لومړی نظر: په نورو ګوتو یې کارول مکروه دي (الاقناع، للشربیني، ۱/ ۲۲۱).

دویم نظر: په نورو ګوتو یې کارول حرام دي او دا د دوی صحیح قول دی. ځکه چې په اړه یې صحیح نهی راغلې ده، او په کې د ښځو سره مشابهت راځي (ارشاد الساري، للقسطلاني، ۹/ ۴۵۳).

ځلورم قول: حنبلي فقها وو هم په دې مسئله کې لاندې تفصیل لري:

لومړی نظر: په نورو ګوتو یې کارول مکروه دي.

دویم نظر: یواځې په منځنۍ او د شهادت په ګوتو یې کارول مکروه دي.

امام احمد رحمه الله به په منځنۍ او شهادت ګوتو باندې ګوتمه د نارینه وو لپاره کارول مکروه ګڼي؛ د دې لپاره چې په دې کې صریح نص راغلې وو. د حنبلي فقهاوو له نصوصو نه معلومېږي چې د دې دواړو ګوتو نه پرته یې په نورو ګوتو استعمالول مکروه نه ګڼي، اګر که په کچه ګوته یې کارول افضل او بهتر دي (الانصاف، للمرداوي، ۳/ ۱۴۴). د کچې ګوتې نه پرته په نوور ګوتو کارولو کې یې د تخصیص سبب دا دی چې: دغه ګوته په طرف کې واقع او په کارونو کې ډېره بوخته نه وي، او د سپکاوي نه هم ژغورل کېږي (الفروع، لابن مفلح، ۴/ ۱۵۱). اکثره حنبلي فقها وو نه د نارینه وو لپاره په کچه او شهادت ګوتو د ګوتمې په لاس کول مکروه ګڼلي؛ بلکې د ښځو لپاره یې کارول هم مکروه دي(الانصاف، للمرداوي، ۳/ ۱۴۳).

راجح قول په دې مسئله کې والله أعلم دا دی چې: د کچې ګوتې ځخه پرته په نورو ګوتو باندې د ګوتمې کارول مکروه دي، دا په هغه وخت کې چې د ښځو او کافرو سره په کې مشابهت رانه شي، او که چېرې دوي سره په کې مشابهت راتللو نو بیا یې کارول پرته له اختلاف حرام دي.

ځلورم مطلب: آیا ګوتمه په ښي لاس وکارول شي که په چپ؟

دا یوه له هغو مسائلو څخه ده چې فقها وو په کې ډېر سخت اختلاف کړې دی. کوښښ کوو د ځلورو واړه مذهبونو او اهل علمو قولونه په ترتیب سره ذکر کړو:

لومړی قول: حنفي فقهاء په دې کې دوه نظرونه لري:

لومړی نظر: د چپ لاس په کچه ګوته باندې بايد ګوتمه په لاس کړې شي او ښي لاس ترې وساتل شي. په دې لاس او ګوته کې فضيلت ډېر دی. ځينې حنفي فقهاء په دې آند دي چې په ښي لاس باندې د ګوتمې په لاس کول د روافضو نښه ده (الجوهرة النيرة، للحداد، ٦/ ١٥٤).

دويم نظر: په ښي او چپ لاسونو دواړو باندې جواز لري (عمدة القاري، للعيني، ٢٢/ ٣٧٨).

ابن عدي رحمه الله او نورو نه يو روايت دی چې رسول صلی الله عليه وسلم په ښي لاس باندې ګوتمه په لاس کوله او بيا يې چپ لاس ته واړوله(الكامل في ضعفاء الرجال، لابن عدي، ٣/ ٢٦١). د دوي په آند په چپ لاس باندې يې کارول افضل دي؛ ځکه په دې کې د تعجب او ځان ښودنې نه امان وي، لکه څنګه چې غمی د ورغوي داخل طرف کيدلو کې دغه تعجب او ځان ښودنې څخه ژغورنه رامنځته کېږي (مرقاة المفاتيح، للقاري، ٧/ ٢٨٠٠).

دويم قول: مالکي فقهاوو هم په دې موضوع کې هم اختلاف لري:

لومړی نظر: جمهور مالکيان په دې آند دي چې په چپ لاس کارول يې ښه دي او امام مالک رحمه الله هم په چپ لاس ګوتمه کاروله (الفواكه الدواني، للنفراوي، ٩/ ٢٠١). خو ځينې مالکيان په دې نظر دي چې په ښي لاس کارول يې مکروه دي، لکه څنګه چې د امام مالک رحمه الله نه نقل دي(شرح مختصر خليل، للخرشي، ٤٥٦/١). دوی وايي: اجماع هم په دې شوې ده چې اهل سنت علما وو په چپ لاس باندې ګوتمه کارولې(شرح صحيح البخاري لابن بطال، ٩/ ١٣٢).

دويم نظر: ځينې مالکي فقها وو ويلي دي: په لباس کې ښي لاس افضل دی؛ ځکه رسول صلی الله عليه وسلم نه دا خبره روايت شوې ده (شرح مختصر خليل، للخرشي، ٤٥٦/١)، او ګوتمه د ښائست لپاره وي نو ځکه بايد ښي لاس پورې خاص کړی شي؛ ځکه چې په پيزار اغوستلو کې هم ښي طرف ته ترجيح ورکړې شوې ده، او بله خبره دا ده چې په دې کې د الله تعالی نوم وي نو که په ښي لاس باندې وکارول شي نو ضرورت نه ليدل کېږي چې استنجاء لپاره دې لرې کړې شي (الذخيرة، للقرافي، ١٣/ ٢٦١).

دريم قول: شافعي فقهاء هم په دې مسئله کې دوه نظرونه لري:

لومړی نظر: دواړو لاسونو باندې کارول يو شان دي؛ ليکن په ښي باندې يې کارول افضل او بهتر دي، او دا د دوي د مذهب صحيح قول دی (الاقناع، للشربيني، ١/ ٢٢١). د هغو فقهاوو دليل چې ښي لاس ته په چپ لاس باندې غوره والی ورکوي د ابن عمر رضي الله عنه روايت دی چې هغه وايي: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَتَخَتَّمَ بِهِ فِي يَمِينِهِ ثُمَّ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ إِنِّي كُنْتُ اتَّخَذْتُ هَذَا الْخَاتَمَ فِي يَمِينِي ثُمَّ نَبَذَهُ وَنَبَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ)( سنن الترمذي، ٦/ ٣٦٠، ګڼه: ١٦٦٣).

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول صلی الله عليه وسلم د سرو زرو ګوتمه جوړه او په ښي لاس يې کړه، بيا په منبر پورته شو، راوي وايي: رسول صلی الله عليه وسلم وويل: ما دا ګوتمه جوړه کړې وه او په ښي لاس کړې مې وه، بيا يې هغه وغورځوله او خلکو هم خپلې ګوتمې وغورځولې.

بغوي رحمه الله ویلي دي: دغه حدیث په دوو کارونو باندې مشتمل دی: یو دا چې د سرو زرو د ګوتمې کارول د نارینه وو په حق کې حرام شو. او بل دا چې اخري امر چې رسول صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی د ګوتمې په چپ لاس کارول دي (شرح السنة، للبغوي، ۱۲/ ۵۷).

دویم نظر: چپ لاس باندې یې کارول افضل او بهتر دي. د دوی دلیل دا دی چې: په ښي لاس کارول یې د روافضو نښه ده نو کېدای شي چې دوي ته نسبت وشي.د دې دلیل ځواب دا دی چې: په ټولو هیوادونو کې دا د روافضو نښه نه ده، او که چېرې ثابت هم شي نو مونږ نه شو کولای چې یوې مبتدعې ډلې له امله د رسول صلی الله علیه وسلم سنت پرېږدو (المجموع، للنووي، ۴/ ۴۶۲). امام نووي رحمه الله د اجماع قول هم داسې نقل کړې دی چې په دواړو لاسونو باندې یې کارول روا دي، او هېڅ یو کې کراهت نشته؛ بلکې اختلاف په افضلیت کې دی. او زمونږ په آند افضل دا دي چې په ښي لاس باندې وکارول شي؛ ځکه ګوتمه د ښائست لپاره وي او ښی لاس یې ډېر وړ دی(شرح مسلم، للنووي، ۱۴/ ۷۲). په دې کې هېڅ تعارض نشته ځکه دواړو لاسونو باندې یې کارول روا دي، رسول صلی الله علیه وسلم به کله په ښي لاس او کله په چپ لاس باندې کاروله او په دې باب کې هېڅ داسې صراحت شتون نه لري چې رسول صلی الله علیه وسلم دې د تل لپاره په یو لاس باندې کارولې وي. ابن ابي حاتم د ابو زرعة نه د دې باب د حدیثونو د اختلاف په اړه پوښتنه وکړه؟ هغه ځواب ورکړ: نه دا ثابت دي او نه هاغه، لیکن د ښي لاس روایتونه یې ډېر دي (فتح الباري، لابن حجر، ۱۰/ ۳۲۶). ذکر شوي اختلاف د نیت او قصد پر بنیاد دی، که چېرې یې څوک د ښائست لپاره کاروي نو ښې لاس افضل دی او که چېرې یې څوک د مهر لپاره کاروي نو چپ لاس بهتر دی. او دا نظر د ابن حجر رحمه الله هم دی (فتح الباري،لابن حجر، ۱۰/ ۳۲۶).

څلورم قول: حنبلي فقهاء په دې مسئله کې درې نظرونه لري:

لومړی نظر: په هر لاس باندې یې کارول روا دي، ښی وي او که چپ.

دویم نظر: په ښي لاس یې کارول افضل دي.

دریم نظر: په چپ لاس یې کارول افضل دي. دغه قول د امام احمد رحمه الله منصوصي او د مذهب صحیح قول دی.

امام احمد رحمه الله ویلي دي: په چپ لاس یې کارول ډېر ثابت او ماته خوښ دي او د ښي لاس حدیثونه یې ضعیف ګڼلي دي (الفروع، لابن مفلح، ۲/ ۳۵۴). دارقطني او نورو ویلي دي: منصوصي دغه خبره ده چې رسول صلی الله علیه وسلم ګوتمه د چپ لاس په کچه ګوته باندې کارولې ده، د دې لپاره دغه ګوته په طرف کې واقع ده، نو ګوتمه له سپکاوي څخه ژغورل کېږي، او بله دا چې دې سره ټول لاس نه مصروفیږي. همدارنګه ویل شوي دي: چې په ښي لاس یې کارول افضل او ډېر وړ دي (تصحیح الفروع، للمرداوي، ۴/ ۱۵۱). هغه خلکو چې په چپ لاس باندې ګوتمه کارولې عبارت دي له: ابوبکر، عمر، عثمان،

حسن، حسین، قاسم، سالم، ابراهیم، عمرو بن حریث، ابن عمر، قاسم بن محمد، سالم بن عبدالله رضوان الله علیهم(التمهید،لابن عبدالبر، ۱۷/ ۱۱۲). او هغه خلکو چې په ښي لاس یې کارولې عبارت دي له: جعفر بن ابي طالب، محمد بن علي بن الحنفیة، ابن عباس او عبدالله بن جعفر رضوان الله علیهم(التمهید،لابن عبدالبر، ۱۷/ ۱۱۱).

راجح په دې مسئله کې والله أعلم: د نیت او قصد اختلاف دی، که چېرې یې څوك د ښائست لپاره په لاس کوي نو ښی لاس افضل دی او که چېرې یې څوك د مهر په نیت په لاس کوي نو بیا چپ لاس افضل دی. دا ځکه چې ډېرو سلفو په ښي او ډېرو سلفو په چپ لاس باندې کارولې ده(اکمال المعلم، لقاضي عیاض، ٦/ ٦١١). په دې امر کې پراخي ده لکه څنګه چې امام ابوداود ترجمة الباب په دې عنوان سره ایښی دی چې: باب التختم في الیمین والیسار، بیا یې اړوند حدیثونه سره له اختلافه راوړي دي او هېڅ ترجیح یې په کې نه ده کړې(سنن ابي داود، ٦/ ٢٨٣). نووي رحمه الله هم په ښي او چپ لاس باندې د ګوتمې د کارولو په اړه اجماع نقل کړې ده او بیا یې ویلي دي: په دې کې هېڅ کراهت نشته. اختلاف یواځې په افضلیت کې دی(فتح الباري، ۱۰/ ۳۲۷). والله أعلم.

**پنځم مطلب**: په ګوتمه باندې د نقاشۍ حکم

د مسئلې صورت: که یو څوك ځان لپاره ګوتمه جوړول غواړي نو په هغې باندې نقاشي کول(نوم او داسې نور...) جواز لري او که نه؟

په دې مسئله کې د فقهاوو اختلاف په لاندې ډول دی:

لومړی قول: جمهور فقهاء چې مالکي او شافعي هم په کې دي وایي: په ګوتمه باندې نقاشي روا ده. دا مذهب د حسن، عطاء او سعید بن المسیب رحمهم الله او د نورو هم دی.

مګر مالکي فقهاوو دا شرط ایښی دی چې: په دې نقاشۍ کې به د رسول صلی الله علیه وسلم نوم نه وي، خو که خپل نوم ولیکي پروا نه کوي، ځکه د نوم لیکل خلفاوو او قاضیانو پورې خاص دي(شرح صحیح البخاري، لابن بطال، ۹/ ۱۳۵). شافعي فقهاوو ویلي دي: په ګوتمه باندې نقاشي روا ده؛ که پکې د الله تعالی نوم، خپل نوم او یا د بل چا نوم لیکل شوی وي پروا نه کوي(المجموع، للنووي، ۴/ ۴۶۳). کیدای شي چې د دې قول دلیل د ابن عمر دغه حدیث وي چې روایت دی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِى بَطْنَ كَفِّهِ وَنَقَشَ فِيهِ « مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ». فَاتَّخَذَ النَّاسُ خَوَاتِمَ الذَّهَبِ فَلَمَّا رَآهُمْ قَدِ اتَّخَذُوهَا رَمَى بِهِ وَقَالَ « لاَ أَلْبَسُهُ أَبَدًا ». ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقَشَ فِيهِ « مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ». ثُمَّ لَبِسَ الْخَاتَمَ بَعْدَهُ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ لَبِسَهُ بَعْدَ أَبِى بَكْرٍ عُمَرُ ثُمَّ لَبِسَهُ بَعْدَهُ عُثْمَانُ حَتَّى وَقَعَ فِى بِئْرِ أَرِيسَ(سنن ابي داود ۴/ ۱۴۲.ګڼه: ۴۲۲۰). ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم د سرو زرو ګوتمه ځان ته انتخاب کړه او د هغې غمی یې د لاس ورغوي

طرف ته وو او په هغې کې (محمد رسول الله) لیکل شوی وو، نو خلکو هم د سرو زرو ګوتمو کارول شروع کړل، کله چې رسول صلی الله علیه وسلم دوی ولیدل نو خپله ګوتمه یې وغورځوله او ویې ویل: زه به یې د تل لپاره په لاس نه کړم. بیا یې د هغې نه وروسته د سپینو زرو ګوتمه په لاس کړه او هغې باندې هم د (محمد رسول الله) لیکل شوی وو، بیا د هغه د مرګ څخه وروسته ابوبکر، بیا عمر او بیا عثمان رضوان الله علیهم په لاس کړه تر دې چې د عثمان رضي الله عنه نه د اریس په څاه کې وغورځیده.
د حدیث څخه د استدلال طریقه: رسول صلی الله علیه وسلم چې کله د سرو زرو نه ګوتمه جوړه کړه او د خپل نوم نقاشي یې پرې وکړه، بیا وروسته خلیفه ګانو هم دغسې وکړل. نو دا په دې دلالت کوي چې په ګوتمه باندې نقاشي کول یو روا عمل دی.
دویم قول: د ابن سیرین او ابراهیم نخعي رحمها الله نه روایت دی، دوي ویلي دي: په ګوتمه باندې نقاشي مکروه ده(شرح مسلم، للنووي، ۱۴/ ۶۸).

د دې قول دلیل دا کیدای شي چې یو روایت کې راغلي دي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَقَالَ إِنِّي اتَّخَذْتُ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشْتُ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَلَا يَنْقُشَنَّ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِهِ)( صحیح البخاري، ۱۰/ ۱۲۸، ګڼه: ۵۴۲۸). ژباړه: انس بن مالك رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ځانته له سپنو زرو نه ګوتمه جوړه کړه او نقاشي یې پرې د محمد رسول الله وکړه او ویې ویل: ما له سپینو زرو نه ګوتمه جوړه کړې ده او نقاشي پرې د محمد رسول الله کړې ده نو هیڅوك دې زما د نقاشۍ په څېر نقاشي نه کوي.

د حدیث نه د استدلال طرز: رسول صلی الله علیه وسلم د نقاشۍ نه منعه کړې ده.

په دې مسئله کې راجح قول: په ګوتمه باندې نقاشي کول روا دي، ځکه چې په اصل کې ګوتمه د اړتیا لپاره په لاس کیږي چې هغه مهر دی او هغه په پاچا او قاضي پورې خاص دی، نو پر دې بنسټ د نقاشۍ څخه پرته مهر نه متحقق کیږي. ابن عبدالبر رحمه الله ویلي دي: د نقاشۍ په اړه سلف هم مختلف وو، د عمر رضي الله عنه نه روایت دی: تاسې نقاشي مه کوئ او پخپلو ګوتمو باندې عربي مه لیکئ. د حسن او عطاء رحمهما الله په آند نقاشي هېڅ پروا نه لري اګر که د قران کریم آیت پرې هم ولیکل شي او ابراهیم نخعي رحمه الله یې بیا مکروه ګڼي(التمهید،لابن عبدالبر، ۱۷/ ۱۱۱). ابن ابي شیبه رحمه الله پخپل مصنف کې د ډېرو صحابو او تابعینو نه نقل کړي دي چې هغوي به پخپلو ګوتمو باندې نقاشي کوله(المصنف، لابن ابي شیبه، ۵/ ۱۹۰).
د دې ټولو روایتونو ترمنځ به تطبیقي جمع داسې وشي چې: کراهت هغه چا لپاره دی چې د دې وېره شتون ولري چې جنب، حائض او یا استنجاء پرې وشي. او جواز هغه وخت کیدای شي چې د دې وېره نه وي(فتح الباري، لابن حجر، ۱۰/ ۳۲۸).

پوښتنه: رسول صلی الله علیه وسلم د څه لپاره په ګوتمو باندې د نقاشۍ نه نهی کړې ده؟
ځواب: ځکه چې د ده نوم او رسالت ټول مخلوق لپار د ده صفت وو، د انسان په ګوتمه باندې نقاشي د پېژندلو او تمیز لپاره وي، نو هېڅا ته روا نه دي چې د رسول صلی الله علیه وسلم په صفت او پېژنګلوې ځان متصف کړي. امام مالك رحمه الله ویلي دي: د خلیفه ګانو او قاضیانو د حیثت نه دا دي چې خپل نومونه په ګوتمو باندې نقاشي کړي(شرح صحیح البخاري، لابن بطال، ۹/ ۱۳۵).
نووي رحمه الله ویلي دي: د رسول صلی الله علیه وسلم د نهي سبب دا هم کیدای شي چې هغه د ځان لپاره ګوتمه جوړه کړې وه او نقاشي یې پرې د دې لپاره کړې وه چې نورو پاچاهانو ته پرې لیږونکي خطونه مهر کړي، که یو څوك له دې پرته نقاشي کوي نو ضرور خبره ده چې فساد او ګډوډي به منځ ته راځي(شرح مسلم، للنووي، ۱۴/ ٦٨).
**شپږم مطلب**: په کوژدن کې هلك یا انجلۍ ته د ګوتمې په لاس کولو حکم
أ- د کوژدن د ګوتمې پېژندنه:
دغه ګوتمې ته عربي ژبه کې (دبله) وایي، دغه ګوتمه داسې پېژندل شوې ده: کله چې یو نارینه ښځه په نکاح کوي نو د ښي لاس د ګوتمې په ګوته یې ورته په لاس کوي، کله چې نکاح وشي بیا یې د ښي لاس نه د چپ لاس دغې ګوتې ته انتقالوي، همدارنګه ښځه همداسې کوي(موسوعة الاسرة تحت رعاية الاسلام، لعطيه صقر، ۱/ ۳۰۷).
ب- دغه رسم رواج کله پیل شو؟
مخکې له دې نه چې د دغې ګوتمې په حکم خبرې وکړو، اړینه بولو چې د نوموړي رسم او رواج حقیقت او مخینه وپېژنو. دا یو پخوانی عادت دی او ویل کېږي چې لومړي ځل لپاره فرعونیانو منځ ته راوړې دی او بیا وروسته د اغریق قوم کې ښکاره شو، د دې عادت ډېر پالونکي انګریزان دي، او په نصاراوو کې هم مشهور دی. د دوي کوم کس چې به د یوې ښځې سره د نکاح اراده وکړه او موافقې ته به ورسیدل نو په دوي لازم وو چې نارینه او ښځینه دواړه قسیس ــ (د نصاراو د دین پوهه او عالم کس ته ویل کیږي) ــ ته راشي او هر یو بل ته ګوتمه په لاس کړي؛ د ګوتمې په لاس کولو طریقه یې داسې وه چې: قسیس به ګوتمه واخیسته او ښځې د چپ لاس په غټه ګوته به یې کېښوده او پلار نوم به یې ورته یاد کړ، بیا به یې د شهادت په ګوته کیښوده او د زوي نوم به یې ورته یاد کړ، بیا به په منځنۍ ګوته کېښوده او د روح القدس نوم به یاد کړ، تر دې چې د ګوتمې ګوتې ته به ورسیده، هلته به یې پرېښوده او ټولو به آمین ووایه.
پدغه ګوته یې په لاس کولو سبب دا وو چې په دې کې یو رګ دی او هغه د زړه سره متصل دی، نو د دې لپاره چې د دې دواړو ترمیځ د زړه مینه او محبت پیدا شي(آداب الزفاف، للالباني، ص: ۲۱۳). دغه کړنه په ډېرو هېوادونو کې مشهوره نه وه، بلکې د انګریزانو او اسلامي هېوادونو له ګاونډیانو راانتقال شوه(فتاوى

ورسائل، لمحمد ابراهیم آل الشیخ، ۴/ ۹۰) ، په اسلامي شریعت کې هېڅ اصل نه لري، او د هغو کارونو څخه ده چې نوې پیدا شوي دي(موسوعة الاسرة تحت رعایة الاسلام، لعطیه صقر، ۱/ ۳۰۸). د معاصرو فقهاوو ترمنځ هم د یادې موضوع په حلالوالي او حراموالي کې اختلاف شتون لري:

لومړی قول: د دغې ګوتمې کارول حرام نه دي، دا مسئله پراخه او ساحه یې لویه ده؛ کله چې په یو هېواد کې خلک دې سره بلد او اشنا وي نو په لاس کول یې هېڅ پروا نه کوي په دې شرط چې د مشابهت په نیت ونه شي، که چېرې زړه کې د کافرانو او ښځو سره مشابهت موجود وو نو بیا یې کارول حرام دي، خو بهتره خبره دا ده چې په لاس نه کړی شي؛ ځکه دا له نوو پیدا شوو کارونو څخه دی او هېڅ شرعي اصل نه لري، کم ترکم باید دومره ویلې شي چې کارول یې مکروه دي. دا قول د عبدالله ابن باز رحمه الله دی(فتاوی نور علی الدرب، لابن باز، ۲۰/ ۱٦۳).

دویم قول: د دغه ګوتمې کارول حرام دي؛ هېڅ اصل او حقیقت نه لري او له خرافاتو او باطلو رواجونو څخه دی. هر هغه څوک چې دغه ګوتمه په لاس کوي له دغو دوو حالتونو څخه به خالي نه وي:

لومړی حالت: یا خو به یې په دې عقیده په لاس کوي چې د مېړه او ښځې ترمنځ مینه او محبت دوام پیدا کړي نو دا په کوچني شرک کې راځي، او ډېرې خلک یې په دې عقیده په لاس کوي.

دویم حالت: یا به پورتنۍ عقیده نه لري نو بیا هم کم ترکم حرمت یې له دې امله دی چې مشابهت یې له نصاراو سره دی؛ او له دوی څخه دغه کار رانقل شوې دی. دا قول د ابن عثیمین رحمه الله دی(القول المفید للعثیمین، ۱/ ۱۸۱). دا وایي: په هر حالت د دغې ګوتمې کارول حرام دي، لومړی دا یوه فاسده عقیده ده چې مېړه د خپلې ښځې نوم پرې لیکې او ښځه د مېړه نوم پرې لیکې او په دې عقیده یې په لاس کوي چې دا د دوي ترمنځ د اړیکې یو سبب او نښه ده چې دا ټول خرافات او له ځان جوړې شوې خبرې دي، او دویم دا چې د نصاراوو سره مشابهت دی؛ ځکه دغه عمل له هغوی نه په میراث پاتې دی. هېڅ اصل او حقیقت په شریعت کې نه لري او هېڅ توجیه ورله نه ده په کار(نور علی الدرب، للعثیمین، ۵/ ۱۹). د یادې موضوع په هکله په عثماني فتاوی کې د یوې پوښتنې په ترځ کې داسې ځواب ورکړل شوې دی:

یوشپېتمه شمېره پوښتنه (٦۱)

خلک د کوژدنې په وخت کې بېلا بېل قامي، ژبني او سیمه ایز رواجونه لري لکه د جینۍ لخوا هلک ته ګوتمه په لاس کول، د دې رواج شرعي حکم څه دی؟

ځواب: د رسمونو، رواجونو او بېلا بېلو عادتونو اړیکه چې کله د خوښۍ په وختونو کې وي؛ نو په هغې کې په عام ډول باندې مذهبي جذبه او لزوم نه وي، حال دا چې د غم په وختونو کې رسمونه او عادتونه د مذهبي جذبې او یا کوم ځانګړي شالید پر بنسټ کېږي؛ نو ځکه د خوښۍ رسمونه او رواجونه په اصل

کې مباح ګرځول شوي دي، البته که په دې سره شرعي حکم اغېزمن نه شي، په پوښتنه کې یاد شوې حالت هم د خوښۍ سره اړیکه لري؛ نو که چېرته د کوم دیني حکم په مخالفت باندې مشتمل نه وي؛ نو په جواز کې یې څه خبره نشته، په ځانګړي ډول کله چې ایجاب او قبول ترسره شوې وي او اختلاط هم نه وي(فتاوی عثمانیة، لمفتي غلام الرحمان، ۵/ ۷۳).

راجح په دې مسئله کې و الله أعلم دویم قول دی کوم چې یې په حرمت باندې قائل دی. که څوک ووایي چې دغه کار خو اوس د اسلامي ټولنې عادت جوړ شوې دی نو په دې کې د کفارو سره مشابهت هېڅ هم نه ښکاري؟ مونږ ورته وایو چې: مونږ دا خبره نه منو؛ ځکه دغه کار د کافرانو له عقیدوي ځانګړتیاوو څخه دی، شارع مونږ له کافرانو سره په عام ډول له مشابهت نه منعه کړي یو، نو له عقیدوي مشابهت نه څنګه نه یو منعه. او په اسلامي ټولنو کې خپریدل په دې معنی نه دي چې دا یو روا عمل دی. دې کې هېڅ شک نشته چې نن ورځ کوم خلک دغه ګوتمه کاروي ضرور ده چې دوی پرې عقیده او باور ولري؛ ځکه د دوي دغه کړنه په دې معنی ده چې د مېړه او ښځې ترمنځ مینه او محبت دوام پیدا کړي، د دوی په آند که چېرې دغه ګوتمه لرې کړې شي نو د دوی مناسبات او اړیکې له منځه ځي چې دا د نصاراو عقیده هم ده. او که څوک داسې ووایي چې دا کار خو مونږ د ډالۍ په نیت ترسره کوو ترڅو د دواړه زړونه سره وتړل شي، او ډالۍ ورکولو باندې خو اسلامي شریعت هم مونږ هڅولي یو؟ دا خبره هم مونږ نه منو ځکه د دې ګوتمې ډالۍ د نورو ډالیو په څېر نه ده چې خلک یې یو بل ته ورکوي، ځکه دغه ډالۍ په دې نیت باندې ورکول کېږي چې نارینه او ښځینه یې په لاس کړي او ترمنځ یې د مینې او محبت اړیکې لا غښتلي شي. دا خو د سپینو زرو د ګوتمې د حکم په اړه یو څه مو بیان کړل، خو که چېرې یې د سرو زرو وي نو د هغې حکم مخکې تېر شوې چې نارینه وو ته په هېڅ ډول روا نه دي.

**پایلیزه**

د مقالې له پایلو جوته کېږي چې:

۱- ټولو فقهاؤ په دې اتفاق کړې دی چې ښځو ته د سرو زرو کارول روا دي.

۲- ټولو فقهاؤ په دې اتفاق کړې دی چې نارینه وو ته د سرو زرو کارول نا روا دي.

۳- د سپینو زرو په ګوتمه کې اصل جواز دی؛ خو غوره دا ده چې له ضرورت او اړتیا څخه پرته ونه کارول شي.

۴- د اوسپنې ګوتمې کارول د نارینه او ښځینه دواړو لپاره په صحیح قول مکروه دي.

۵- د ملغلرې ګوتمه د ښځو لپاره روا، د نارینو لپاره اختلافي مسئله ده؛ خو غوره دا ده چې ونه کارول شي ځکه رسول صلی الله علیه وسلم نه ده کارولې.

٦- صحيح خبره دا ده چې نارينه بايد له يوې ګوتمې څخه زياتې ګوتمې په لاس نه کړي ترڅو د سنتو تابعداري وشي.
۷- د ګوتمې کارول د کچې ګوتې څخه پرته په نورو ګوتو باندې مکروه دي او که چېرې يې د مشابهت نيت وو نو بيا حرامه ده.
۹- صحيح خبره دا ده چې يو کس د ښي او چپ لاس په کچې ګوتې ګوتمه په لاس کولی شي، دواړه سنتو کې ثابت دي.
۱۰- په ګوتمه باندې د نقاشي کولو کې راجح قول دا دی چې د روا ليکلو نقاشي پرې کومه ستونزه نه لري.
۱۱- د کوژدن ګوتمې کارول حرام دي؛ ځکه په دې کې د کافرانو سره مشابهت او فاسده عقيده مشتمله وي.

وړانديزونه:

۱- ټولو مسلمانانو ورونو ته مو دا وړانديز دی چې د سنتو پيروي وکړې او پر ځان يې عملي کړي.
۲- د شرعياتو پوهنځي او اسلامي ثقافت علمي کادر غړو ته مو دا وړانديز دی چې د کوژدنې ګوتمې په اړه لا زيات تحليل او د
علما وو او پوهانو نظرونه روښانه کړي.
۳- هغو مسلمانانو ته مې وړانديز دی چې له ګوتمو پرته غاړکۍ او بنګړي استعمالوي په اړه پوره پوهه او فقهي تحليل ولولي او ځان پرې پوهه کړي.

**سرچينې**

ابن ابي شيبه، عبدالله بن محمد، المصنف فی الأحاديث والآثار، تحقيق: كمال يوسف الحوت، ط ۱، الرياض، مكتبة الرشد، ۱۴۰۹ هـ.
ابن باز، عبدالعزيز بن عبدالله، فتاوى نور على الدرب.
ابن بطال، علي بن خلف، شرح صحيح البخاري، تحقيق: أبو تميم ياسر بن ابراهيم، ط ۲، الرياض، مكتبة الرشد، ۲۰۰۳ م.
ابن حجر، احمد بن علي، فتح الباري شرح صحيح البخاري، اشراف: محب الدين الخطيب، بيروت، دار المعرفة، ۱۳۷۹ هـ.
ابن عبدالبر، يوسف بن عبدالله، الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار و علماء الأقطار فيما تضمنه الموطأ من معاني الرأي و الآثار، تحقيق: عبدالمعطي امين قلعجي، ط ۱، دمشق، دار قتيبة- دمشق- حلب: دار الوعي، ۱۹۹۳ م.
ابن عبدالبر، يوسف بن عبدالله، التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد، تحقيق: مصطفى بن أحمد العلوي، محمد عبدالكبير البكري، وزارة عموم الأوقاف والشؤون الاسلامية بالمغرب، ۱۳۸۷ هـ.
ابن عثيمين، محمد بن صالح، شرح رياض الصالحين، الرياض، دار الوطن للنشر، ۱۴۲٦ هـ.

ابن عثيمين، محمد بن صالح العثيمين، القول المفيد على كتاب التوحيد، محمد بن صالح العثيمين، ط ، دار ابن الجوزي، المملكة العربية السعودية، ۱۴۲۴هـ.

ابن عدي، عبدالله بن عدي، الكامل في ضعفاء الرجال، تحقيق: عادل أحمد عبدالموجود- علي محمد معوض، ط ۱، بيروت، دار الكتب العلمية، ۱۹۹۷ م.

ابن قاسم، عبدالرحمن بن محمد، حاشية الروض المربع، ط ۷، ۱۴۱۷ هـ.

ابن قدامة، عبدالله بن أحمد، المغني، ط ۱، بيروت، دار الفكر، ۱۴۰۵ هـ.

ابن مازة، محمود بن أحمد، المحيط البرهاني في الفقه النعماني، تحقيق: عبدالكريم سامي الجندي، ط۱، بيروت، دار الكتب العلمية، ۲۰۰۴ م.

ابن مفلح، محمد بن مفلح، الفروع، تحقيق: عبدالله بن عبدالمحسن التركي، ط ۱، مؤسسة الرسالة، ۲۰۰۳ م.

ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد، البحر الرائق شرح كنز الدقائق، ط ۲، دار الكتاب الاسلامي،(بدون تاريخ).

ابي داود، سليمان بن الاشعث، سنن ابي داود، تحقيق: محمد محيى الدين عبدالحميد، بيروت، المكتبة العصرية،۱۴۳۰ هـ.

ازهري، محمد بن أحمد، تهذيب اللغة، تحقيق: محمد عوض مرعب، ط ۱، بيروت، دار احياء التراث العربي، ۲۰۰۱ م.

آل الشيخ، محمد بن ابراهيم بن عبداللطيف، فتاوى و رسائل، جمع وترتيب: محمد بن عبدالرحمن بن قاسم، الحكومة بمكة المكرمة.

الباني، محمد ناصر الدين، آداب الزفاف في السنة المطهرة، دار السلام، ۱۴۲۳ هـ.

باجي، أبو الوليد سليمان بن خلف القرطبي الباجي، المنتقى شرح الموطإ، ط ۱، مطبعة السعادة - بجوار محافظة مصر، ۱۳۳۲ هـ.

بخاري، محمد بن اسماعيل، الجامع الصحيح، ط۳، بيروت، دار ابن كثير، ۱۹۸۷ م.

بغوي، الحسين بن مسعود، شرح السنة، تحقيق: شعيب الأرنؤوط- محمد زهير الشاويش، ط ۲، دمشق، بيروت، المكتب الاسلامي، ۱۹۸۳ م.

بهوتي، منصور بن يونس، كشاف القناع عن متن الاقناع، تحقيق: هلال مصيلحي، مصطفى هلال، بيروت، دار الفكر، ۱۳۰۲ هـ.

ترمذي، محمد بن عيسى، سنن الترمذي، تحقيق: بشار عواد معروف، بيروت، دار الغرب الاسلامي، ۱۹۹۸ م.

حداد، ابوبكر بن علي، الجوهرة النيرة، ط ۱، المطبعة الخيرية، ۱۳۲۲ هـ.

حطاب، محمد بن محمد الحطاب، مواهب الجليل، ط ۳، دار الفكر، ۱۹۹۲ م.

خرشي، محمد بن عبدالله، شرح مختصر خليل، (ب، ط)، بيروت، دار الفكر للطباعة، (بدون تاريخ).

دردير، أحمد الدردير، الشرح الكبير،(ب،ط)، احياء الكتب العلمية عيسى البابي الحلبي،(بدون تاريخ).

دمياطي، محمد شطا، اعانة الطالبين حاشية على حل ألفاظ فتح المعين لشرح قرة العين بمهمات الدين، بيروت، دار الفكر،۱۴۱۸ هـ.

شافعي، محمد بن ادريس، الأم، ط ۱، دار الفكر للطباعة و النشر والتوزيع، ۱۹۸۰ م.

شربيني، محمد بن أحمد، الاقناع في حل ألفاظ أبي شجاع،(ب،ط)، بيروت، دار الفكر، (بدون تاريخ).
صقر، عطيه صقر، موسوعة الأسرة تحت رعاية الاسلام، القاهرة، مكتبة وهبة، ۲۰۰٦ م.
ابن عثيمين، محمد بن صالح، فتاوى نور على الدرب.
علماء من الهند، الفتاوى الهندية، ط ۲، دار الفكر، ۱۳۱۰ هـ.
عيني، محمود بن أحمد، عمدة القاري شرح صحيح البخاري، بيروت، دار احياء التراث العربي،۱۴۲۱ هـ.
مفتي غلام الرحمن، فتاوى عثمانية، العصر اكاډيمي، ط ٦، پيښور، پاكستان، ۱۴۴۲ هـ، ۲۰۲۰ م.
قاري، علي بن سلطان، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، ط ۱، بيروت، دار الفكر، ۲۰۰۲ م.
قاضي عياض، عياض بن موسى، اكمال المعلم بفوائد مسلم، تحقيق: د. يحيى اسماعيل، ط ۱، المنصورة، دار الوفاء للطباعة والنشر و التوزيع، ۱۹۹۸ م.
قرافي، أحمد بن ادريس، الذخيرة، تحقيق: محمد حجي- سعيد أعراب- محمد بو خبزة، ط ۱، بيروت، دار الغرب الاسلامي، ۱۹۹۴ م.
قرطبي، أحمد بن عمر، المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، ط ۲، بيروت، دمشق، دار ابن كثير للطباعة والنشر والتوزيع، ۱۴۲۰ هـ.
قسطلاني، أحمد بن محمد، ارشاد الساري لشرح صحيح البخاري، ط ۷، دار السلام، ۱۴۲۳ هـ.
كاساني، علاء الدين ابوبكر بن مسعود بن احمد الكاساني، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، ط ۲، دار الكتب العلمية، ۱۴۰٦هـ.
مرداوي، علي بن سليمان، الانصاف في معرفة الراجح من الخلاف، تحقيق: محمد حامد الفقي، ط۱، بيروت، دار احياء التراث العربي، ۱۳۷۵ هـ.
مرداوي، علي بن سليمان، تصحيح الفروع، تحقيق: عبدالله بن عبدالمحسن التركي، ط ۱، مؤسسة الرسالة، ۲۰۰۳ م.
مرغيناني، علي بن أبي بكر، الهداية شرح بداية المبتدي، تحقيق: طلال يوسف، بيروت، دار احياء التراث العربي، ۱۴۱۷ هـ.
مسلم، مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم، تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي، بيروت، دار احياء التراث العربي، ۱۴۲۷ هـ.
نفراوي، أحمد بن غانم، الفواكه الدواني على رسالة ابن أبي زيد القيرواني، دار الفكر، ۱۹۹۵ م.
نووي، يحيى بن شرف، المجموع شرح المهذب،(ب،ط)، بيروت، دار الفكر، (بدون تاريخ).
نووي، يحيى بن شرف، المنهاج شرح صحيح مسلم، ط ۲، بيروت، دار احياء التراث العربي، ۱۳۹۲ هـ.
هيتمي، أحمد بن محمد، المنهاج القويم، ط ۱، دار الكتب العلمية، ۲۰۰۰ م.

# حكم استعمال الخاتم في ضوء الشريعة الاسلامية(دراسة فقهية)

**ابراهيم نورى[١]، عبدالعزيز عابد[٢]**
[١]قسم الثقافة الاسلامية، كلية التعليم والتربية، جامعة لوجر.
[٢]قسم الفقه والقانون، كلية الشريعة، جامعة لوجر.
البريد الالكترونيكي: Ibrahimnoori571@gmail.com

**المستخلص**

يدور موضوع البحث حول بيان معنى التختم وبيان أنواعه و حكمه، دراسة فقهيه مقارنة. و تتلخص أهدافه في بيان المقصود من الخاتم، و ذكر أقوال الفقهاء في استعمالها، و إبراز حكم لبس أكثر من خاتم، وإظهار حكم لبس غير الخاتم من الفضة، و توضيح الحكم الشرعي للبس خاتم الخطوبة. و منهج البحث: استقرائي. وأهم النتائج التي وصلت اليه: أن الأصل في لبس خاتم الفضة هو الجواز، وأن خاتم الحديد مكروه للرجال و النساء، وأنه يجوز لبس خاتم اللؤلؤ للنساء والرجال على الصحيح، وأن الصحيح من كلام أهل العلم أنه يجوز أن يلبس الرجل خاتم الفضة في خنصر يده اليمنى وفي خنصر يده اليسرى على حد سواء، و كلاهما وردت به السنة، وأن الراجح أنه يجوز النقش على الخاتم بما يشاء من الكتابة المباحة، وأنه يحرم لبس خاتم الخطوبة؛ نظرا للتشبه بالكفار، ولما يتضمنه من اعتقاد فاسد.

**الكلمات المفتاحية**: الشريعة الاسلامية، حكم، الخاتم، المقارنة الفقهية.